# ۸

## د کوچنيو شوند وهونکو څارويوطاعون

## (Peste des Petits Ruminants)



**د دی مريضی واقع**
**کيدل په افغانستان**
**کی پيژندل شويدی.**



**۱.تعريف**

يا طاعون په ميږو او وزو کی په شکل د حاد او يا تحت حاد شکل سره ويروسی PPR رنځ دی چه په سمدلاسی ډول سره په څاروی ستومانتيا، تبه، د پزی او سترګو څخه د افرازاتو او بد بويه نس ناستی او تنفسی سيستم د ستونزی منځ ته راوړی.

**۲.عامل**

د جنس او د پاراميکسو ويريدا Morbilivirus ويروس د موربيلی ويروس PPRد د فاميل پوری اړه لری. دغه ويروس په چاپيريال کی په ښه ډول Paramyxo viridae سره ژوندی پاتی کيدلی نه شی.

**۳.انتقال**

د ناروغه څاروی افرازات او ترشحات د انفکشن او انتقال منبع ده او دا هغه وخت زياتيږی چه خاوری يو له بله سره نږدی شی او بيا رنځور څاروی ټوخی او پرينجی وکړی که څاوری منډوی ته وليږدول شی نو د رنځ د خپريدو چانس زياتيږی. د غواګانو د کی قبول شوی اصل دادی چه کوم حمل کونکی ملک بايد ونه PPRطاعون په څير اوسی. غواګانی او اوښان هم پدی رنځ اخته کيږی اما کلينيکی علايم له ځانه نه ښائی او همدارنګه د مريضی د خپريدو سبب نه کيږی.

**۴.اخته کیدونکی څاروی**
په لمړی مرحله کی میړی او اوزی ښکارکیږی اوزی نسبت و میړوته زیاتی حساس دی غواوی او اوښانو کی هم لیدل کیږی اما علایم له ځانه نه ښائی.

**۵.کلینیکی نښی**
مخفی دوره ۴-۵ ورځی نیسی، په حساسو رموکی د مبتلا کیدو درجه لوړه ده او د تماس په نتیجه کی نوره هم زیاتیږی د کم عمر څاروی په شدید ډول سره متاثره کیږی څاروی تبه لری او ناراحته معلومیږی. د بدن پوست ئی متاثره، پزه ئی وچه سور رنگی مکوزا ممبران او د اشتهانه درلودل په څاروی کی لیدل کیږی.
په لمړی مرحله د پزی افرازات زیات وی. وروسته بلغمی شکل غوره کوی او له هغی وروسته د پزی په خالیگاه او سوریو کی فرسوده او پوست لرونکی شکل ځان ته غوره کوی او د هغو د بندیدو سبب کیږی.
غشای مخاطی د همیشه لپاره سره او پړسیدل او په ځینو رنځورو څارویو کی قوی زخمونه او د غشای مخاطی التهاب منځ ته راځی. د خولی زخم لرونکی التهاب په وخت کی پرکښنی شونډی، بیره او مخامخ غاښونو او دزیات شدت په وخت کی د خولی دنورو غاښونو، د خولی دمخاطی غشا او ژبی او پاپیلاگانو په برخه کی هم دا آفات منځ ته راځی. نس ناستی بد بوی او تیره وی چه په نتیجه کی د بدن د اوبو کم والی، خواریدل، د بدن د تودوخی د درجی ټیټوالی او بالاخره د ۵-۱۰ ورځو په تیرودو سره د څاروی دمړینی سبب کیږی، د مریضی په ورستیو ورځو کی شدید سینه بغل چه ټوخی ورسره مل وی منځ ته راځی. بلارب څاروی بچی اچوی. د مړینی اندازه لوړه ده او حتی ۱۰۰ فیصده ته رسیږی بالخصوص په هغه وخت کی چه نور حالتونه لکه د چنجیانو موجودیت، کمه خوراکه بی سرپنائی، او د چاپیریال د هوا د حالاتو تغیر ورسره مل شی.

**۶.غیری معمولی موندنی**
ویروس لمفودی او مخاطی انساجوته خاص میل لری چیرته چه مشخص آفتونه PPRد منځ ته راوړی. د لمفوتیک انساج له منځه وړی چه په نتیجه کی لمفونود وړوکی او توری شړوی. ویروس په مخاطی انساجو کی تکثر کوی او هغه پارچه کوی زخمونه پکښی منځ ته راوړی چه خیری ورباندی د پاسه معلومیږی. دغه زخمونه او آفتونه د پزی په سوریو، سترگو او دخولی په ټولو برخو کی لیدل کیږی. په کولمو کی زخمونه، خونریزی، او مړه انساج په مختلفو ځایونوکی لیدل کیږی او تر ډیره وخته پوری پاتی کیږی او ایلوسیکو وره په برخه کی ئی سخت شکل لیدل کیږی. د زیبرا یا گ(ileo-ceco-colic) کوتیک خر په څیر پټی په غټوکولمو کی لیدل کیږی مری او د معدی مخکینی برخه توسعه

پیداکوی سینه بغل ممکن په لاندی برخه او یا په منتشر ډول په داسی حال کی چه جمع شوی افات د پپوس د نلکو په پاسنی برخه کی ورسره مل وی لیدل کیږی.

**۷.تشخیص**

د تشخیص لپاره مشخص حالتونه دی قطعی PPRکلینیکی نښی او غیرمعمولی موندنی د ELISA ، تشخیص لابراتواری آزموینو په ګوته کولو سره صورت نیسی چه ارګانیزم د د آزموینو د سرته رسولو په نتیجه کی جلا کیږی او همدارنګه د PCR او AGID زخمونو معاینه کول د هستوپتالوژیکی ازموینو په نتیجه کی قطعی تشخیص صورت نیسی.

د پاستوریلا نمونیا Contagious ecthyma او کاکسیدیوزسس د تشخیص تفریقی لپاره او طبق CCPP بزمرګی (Pasteurella Pneumonia په نظر کی ونیول شی FMD

**۸.درملنه**

مشخصه درملنه نه لری اما د ځینو درملو استعمال د نورو باکتریاوی او پرازیتی مرضونو لپاره په یوه رمه کی د مړینی کچه راټیټوی.

**۹.مخنیوی او کنترول**

ښه مخ نیوی به هغه وخت وشی چه نوی پیرودلی څاروی د څو ورځو لپاره جلا وساتل شی تر څو چه معلوم شی دا رنځ پکښی موجود ند دی. کله چه څاروی منډه ئی ته لیږدول کیږی او بیا بیرته راګرځی ممکن ویروس له نورو څارویو څخه واخلی. د وزی د جنین ډ بختورګی په انساجو کی ضعیفه شوی واکسین جوړ او شته چه د یوه کال د مودی لپاره د طبیعی انفکشن په مقابل کی څاروی د رنځ د مبتلا کیدو څخه ساتلی شی.



طاعون (PPR) د
مریضی په حاد شکل کی
مشخص آفات موجودیت د
پزی په برخه کی.



طاعون زیاته (PPR)
او اوبه لرونکی نس
ناسته.